د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

دوشنبه، 14 صفر، ۱۴۴۶هـ | ۲۰24/۰8/19م | ګڼه: ح.ت.افغ 5/۱۴۴۶

**مطبوعاتي اعلامیه**

**له ازبکستاني پلاوي سره تعامل او تود هرکلی یې له ظالمو حکامو څخه د ملاتړ څرګندوی دی**

د ازبکستان لومړی وزیر عبدالله عارفاف د یوه اقتصادي پلاوي په مشرۍ کابل ته راغی او د افغانستان د حکومت له لوړپوړو مقاماتو سره یې ولیدل. د دې لیدنې په پایله کې د ازبکستان او افغانستان تر منځ د اقتصاد، انرژۍ، ټرانسپورټ او سوداګرۍ په برخو کې د ۲.۵ میلیارډ ډالرو په ارزښت د همکارۍ ۳۵ تفاهم لیکونه لاسلیک شول.

د افغانستان حکومت په داسې حال کې په پراخه سینه د ازبکستاني پلاوي هرکلی کوي چې ازبکستان په منځنۍ اسیا کې د مسلمانانو، دعوتګرانو او مجاهدینو ـ چې د اسلام د اقامې غوښتونکي دي ـ په ځپلو کې فعال رول لري. له بل اړخه ازبکستان هغه هیواد دی چې په تېر کې یې خپله هوایي اډه د افغانستان د اشغال لپاره امریکا او ناټو ته په واک کې ورکړې وه او د افغانستان په شل کلن اشغال کې یې د تامینوونکي رول درلود. همدا دلیل دی چې ازبکستان د امریکا لپاره په سیمه کې د اسراییلو په څېر ارزښت لري.

ازبکستان هغه خاوره ده چې د اسلامي لښکر په واسطه فتح او د خلافت د حاکمیت تر چتر لاندې راغله او د بخاري، ترمذي او ابو منصور ماتریدي رحمهم الله پشان سترو علماوو یې په ایماني فضا کې ژوند کاوه. خو له بده مرغه دغه خاوره نن د جابرو حکامو تر واکمنۍ لاندې ده چې د دغې خاورې بچیان د اسلام په جرم ځپي. د افغانستان د حکومت لخوا د ازبکستاني پلاوي تود هرکلی له ظالمو حکامو څخه د ملاتړ څرګندوی دی، په داسې حال کې چې اصلي مکلفیت یې باید له مظلوم ملت څخه دفاع وي چې هره ورځ د دغو حکامو تر پښو لاندې ځپل کېږي. د مرکزي اسیا مسلمانان او جهادي ډلې په افغانستان کې د مجاهدینو واک ته رسېدو ته خوښ وو او د پولو د ماتېدلو او د دوی د خاورو د ازادۍ هیله یې لرله، خو د مرکزي اسیا له ظالمو دیکتاتورانو سره د حاکم نظام نږدې تعامل د هغوی هیلې په ناهیلۍ بدلې کړې او په سیاسي او اقتصادي تعاملاتو سره یې دا ذهنیت را منځ ته کړ چې د دې پر ځای چې حاکم نظام ډېر د مرکزي اسیا د مسلمانانو تر څنګ ودرېږي، د تاریخ په ناسم لوري او د ظالمو دیکتاتورانو په څنګ کې قرار لري.

ازبکستان کوم ځواکمن هیواد نه دی چې د خپلواکو سیاسي اړیکو او لویو اقتصادي پروژو د پر مخ وړلو وړتیا ولري، بلکې پخپله یو تابع دولت دی چې د امریکا او روسیې په نیابت په افغانستان کې استعماري موخې پر مخ وړي. په واقعیت کې د ازبکستان د دغو وعدو او اقتصادي پروژو تر شا سیاسي او استخباراتي موخې پرتې دي. که څه هم د افغانستان حکام سیمه‌ییزو اقتصادي پروژو ته د «ګټلو ـ ګټلو» لوبې په سترګه ګوري، خو که دغو پروژو ته د اسلامي سیاست له زاویې وکتل شي، دا د «ګټلو ـ بایللو» لوبه ده چې افغانستان پکې بایلونکی لوری دی.

لوی اقتصادي جوړول د اسلام له احکامو سره په ټکر کې نه دي، خو که اسلام معیار و نه نیول شي او بر عکس اقتصاد «محور» وګرځول شي، دا چاره د دې لامل کېږي چې حکومت په پانګوال نظام بدل شي. دا سیاستونه څرګندوي چې زموږ حکام اسلامي حللاري غیر واقعي ګڼي او څنګ ته کوي یې او پراګماتیک او واقعیت‌پال سیاست مخته وړي. که حکام د اسلام له سیاسي، اقتصادي او اجتماعي نظام څخه واضح درک نه لري، نو باید حزب التحریر یا نورو جریانونو ته چې دغه درک لري، مراجعه وکړي. له دې پرته باید خلک په فتنه کې وا نه چوي؛ ځکه له ظالمو حکامو څخه هرکلی د دې لامل کېږي چې د افغانستان خلک د ښه او بد په پېژندلو کې له تېروتنې سره مخ شي او و نه شي کولی چې د جابر او عادل تر منځ توپیر وکړي.

حکام باید ویوهېږي چې یوازې په دویم راشده خلافت سره اسلام تطبیقېدلی شي، تمکین موندلی شي او اسلامي امت له نورو امتونو ځانګړی کېدی شي. خلیفه هغه څوک دی چې د اسلام پر بنسټ ځواکمن تمدن تاسیسوي او له ظالمانو سره د تعامل پر ځای د مظلومانو مرستې ته وردانګي. په واقعیت کې هغه کسان چې یوازې له الله سبحانه و تعالی څخه مرسته غواړي، د اسلام په تطبیق کې صبر غوره کوي او په خپل سیاست کې تقوا رعایتوي، الله سبحانه و تعالی دغه شان انسانانو ته خلافت او نړیوال قدرت ور په برخه کوي او د ځمکې وراثان یې ګرځوي.

**قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ اسْتَعِينُوا بِاللَّهِ وَاصْبِرُوا ۖ إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ ۖ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ** [الاعراف، ۱۲۸]

**ژباړه:** *موسی خپل قوم ته وویل: له الله مرسته وغواړئ او صبر وکړئ. بېشکه ځمکه د الله ده او هغه له خپلو بندګانو څخه هغه چا ته، چې خوښه یې شي، (له نورو څخه) په میراث ورکوي او (غوره) عاقبت د متقیانو لپاره دی.*

**د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**